مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نورمحمد غفوری

۲۰۲۶/۱۱/۰۴

د سیستمونو ډولونه

(دوهمه‌برخه)

اصلي او فرعي سیستمونه او د فعالیت د ډګر له مخې طبقه‌بندي

سریزه
سیستمونه د جوړښت، فعالیت، موخې او له چاپېریال سره د اړیکو له مخې له یو بل سره توپیر لري. د دې توپیرونو د پېژندلو له پاره سیستمونه د بېلابېلو معیارونو له مخې طبقهبندي کېږي. په ټېره برخه کې مو د سیستمونو د رامنځته کېدو او له چاپېریال سره د اړیکو له مخې د هغوی ډولونه وڅېړل. په دې برخه کې به د دوو نورو معیارونو په اړه خبرې وکړو: لومړی، په یوه لوی جوړښت کې د سیستم ځای او د مطالعې کچه؛ او دویم، د سیستم د فعالیت ډګر.
د دغو معیارونو پېژندل له مورِ سره مرسته کوي چې د یوه سیستم حدود، داخلي جوړښت، ځانګړي دندې او له نورو سیستمونو سره اړیکې په سمه توګه درک کړو. همدارنګه، دا روښانوي چې یو سیستم څنګه د یوه لوی سیستم برخه کېدای شي، خو په عین وخت کې د جلا مطالعې او تحلیل موضوع هم ګرځېدای شي.

۴ .اصلي سیستمونه او فرعي سیستمونه

د سیستمونو د طبقهبندیِ یو مهم معیار په یوه لوی جوړښت کې د هغوی ځای او د مطالعې کچه ده. د دې معیار له مخې، د اصلي سیستم او فرعي سیستم ترمنځ توپیر کولای شو.
دلته د «اصلي سیستم» اصطلاح هغه سیستم ته اشاره کوي چې د یوې ځانګړې مطالعې یا تحلیل اصلي موضوع وي. له همدې امله، د اصلي او فرعي سیستم توپیر یوازې د سیستم په ذاتي جوړښت پورې نه، بلکې د څېړنې له موخې او کچې سره هم تړاو لري.

۱.۱ .اصلي سیستم څه ته وایي؟

اصلي سیستم هغه سیستم دی چې د یوې ځانګړې څېړنې یا تحلیل تمرکز پرې وي. څېړونکی د خپلې مطالعې د موخې له مخې د دغه سیستم عناصر، داخلي اړیکې، جوړښت، د فعالیت بهیر او پایلې څېړي.
اصلي سیستم معمولاً له څو برخو یا فرعي سیستمونو څخه جوړ وي. دا برخې خپلې ځانګړې دندې او داخلي اړیکې لري، خو فعالیتونه یې له یو بل سره تړلي وي. د دغو برخو ګډ فعالیت د اصلي سیستم پر عمومي فعالیت او پایلو اغېز کوي.
د بېلګې په توګه، که د یوه هېواد اقتصادي سیستم د مطالعې موضوع وي، نو اقتصادي سیستم به اصلي سیستم وي. په دې حالت کې د تولید، بانکداری، سوداګریِ او مالیاتو اړوند جوړښتونه او بهیرونه د دغه سیستم د بېلابېلو برخو (فرعي سیستمونو) په توګه څېړل کېدای شي.

۱.۲ .فرعي سیستم څه ته وایي؟

فرعي سیستم د یوه لوی سیستم هغه برخه ده چې خپل عناصر، جوړښت، داخلي اړیکې او ځانګړې دندې لري، خو فعالیت یې له لوی سیستم سره هم تړلی وي.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له مورِ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

فرعي سيستم يوازي يوه جلا يا بېنظمه برخه نه ده؛ بلکي خپله هم يو سيستم کېدای شي. يعني عناصر لري، د عناصرو ترمنځ يې اړيکي تنظيم شوي وي او د خپلو فعاليتونو له لارې ټاکلي پايلې رامنځته کوي. له همدې امله، يو فرعي سيستم هم د خپل جوړښت او فعاليت له مخې په جلا توګه مطالعه کېدای شي.
د بېلګې په توګه، بانکي سيستم د يوه هېواد د اقتصادي سيستم يوه برخه ده. بانکونه د سپما د راټولولو، پورونو د برابرولو، د پيسو د لېږد او د مالي خدمتونو د وړاندې کولو په برخه کې ځانګړي دندې ترسره کوي. د دغو فعاليتونو څرنګوالی د
اقتصادي سيستم پر نورو برخو، لکه توليد، سوداګرۍ او پانګونې، اغېز کوي. په ورته وخت کې، د اقتصادي وضعيت بدلون هم د بانکي سيستم پر فعاليت اغېز لرلای شي.
په همدې ډول، د يوه بېوونيز نظام د مطالعې پر مهال د بېوونکو د روزنې سيستم، د درسي نصاب سيستم او د زدهکړې د ارزوني سيستم د هغه فرعي سيستمونه ګڼل کېدای شي. هر يو يې ځانګړي دندې لري، خو د بېوونيز نظام د عمومي فعاليت او پايلو په جوړولو کې ونډه لري.

۱.۳ .د اصلي او فرعي سيستمونو ترمنځ اړيکي

د اصلي او فرعي سيستمونو اړيکه يوازې په دې معنا نه ده چې لوی سيستم له ځو برخو جوړ دی؛ بلکي د دغو برخو ترمنځ د متقابل اغېز اړيکي هم مهمې دي.
د يوه فرعي سيستم بدلون کولای شي د لوی سيستم پر نورو برخو او عمومي پايلو اغېز وکړي. په ورته ډول، د لوی سيستم په جوړښت، اصولو، سرچينو يا فعاليت کې بدلون د هغه پر فرعي سيستمونو هم اغېز لرلای شي.
د بېلګې په توګه، که بانکي سيستم د پورونو د ورکولو شرايط بدل کړي، دا بدلون د سوداګرو پر پانګونه، د توليد پر کچه او د کارموندنې پر فرصتونو اغېز کولای شي. په مقابل کې، اقتصادي رکود يا د دولت د مالي سياستونو بدلون هم د بانکي سيستم پر فعاليت اغېز لرلای شي. دا بېيې چې فرعي سيستمونه له لوی سيستم څخه په بشپړ ډول خپلواک نه دي، بلکې د اړيکو په يوه پراخه شبکه کې فعاليت کوي.
د دې اړيکو د بېه درک له پاره د سيستم د حدودو ټاکل هم مهم دي. د څېړنې موخه ټاکي چې کومې برخې د مطالعې په اصلي چوکاټ کې شاملې شي او کومې برخې د لوی سيستم يا چاپېريال په توګه وڅېړل شي. البته، له ټاکل شوي چوکاټ څخه بهر برخې هم د سيستم پر فعاليت اغېز لرلای شي؛ د سيستم حدود ټاکل يوازې د تحليل د منظمولو يوه لاره ده.

۱.۴ .د اصلي او فرعي سيستمونو توپير نسبي دی، نه مطلق

يو سيستم په هر حالت کې په ثابت ډول نه اصلي وي او نه فرعي. دا چې يو سيستم د مطالعې اصلي موضوع ګڼل کېږي او که د يوه لوی سيستم برخه، د څېړنې له موخې او کچې سره تړاو لري.
د بېلګې په توګه، که د يوه هېواد اقتصادي سيستم وڅېړو، بانکي سيستم به يې فرعي سيستم وي. خو که د بانکونو جوړښت، د پورونو بهير، د سپما راټولول او د مالي خدمتونو څرنګوالی په جلا توګه مطالعه کړو، بانکي سيستم به د مطالعې اصلي موضوع شي. په دې حالت کې د بانکي سيستم خپلې برخې هم د فرعي سيستمونو په توګه څېړل کېدای شي.
له همدې امله، د اصلي او فرعي سيستمونو ترمنځ توپير بايد د هغوی دايمي او نه بدلېدونکي ځانګړنه ونه ګڼل شي. دا توپير د مطالعې له کچې او موخې سره سم ټاکل کېږي او له موږ سره مرسته کوي چې د سيستم حدود، داخلي جوړښت او له نورو سيستمونو سره اړيکي په سمه توګه تحليل کړو.

۵ .د فعاليت د ډګر له مخې د سيستمونو ډولونه

سيستمونه يوازې د رامنځته کېدو د څرنګوالي، له چاپېريال سره د اړيکو او په يوه لوی جوړښت کې د خپل ځای له مخې نه طبقهبندي کېږي؛ بلکې د فعاليت د ډګر له مخې هم بېلابېل ډولونه لري.
د فعاليت د ډګر له مخې طبقهبندي پر دې بنسټ ترسره کېږي چې يو سيستم په کومه ساحه کې فعاليت کوي، کومې دندې ترسره کوي او د کومو اړتياوو د پوره کولو له پاره کار کوي.
د دې معيار له مخې، د سياسي، اقتصادي، ټولنيز او کلتوري سيستم ترڅنګ حقوقي، امنيتي، بېوونيز او تخنيکي سيستمونه هم د يادونې وړ دي. دا سيستمونه د خپلو ځانګړو دندو او فعاليتونو له مخې پېژندل کېږي، خو په عملي ژوند کې يې اړيکي له يو بل سره نږدې وي.

۵.۱ .سياسي سيستم

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

سیاسي سیستم له هغو بنسټونو، اړیکو او بهیرونو څخه جوړ دی چې د سیاسي واک له ترلاسه کولو، تنظیم او کارونې، د ګډو پرېکړو له نیولو او د ټولنې د سیاسي چارو له مدیریت سره تړاو لري. د دولت بنسټونه، سیاسي ګوندونه، ټاکنیز بهیرونه او د خلکو سیاسي ګډون یې د فعالیت له مهمو اړخونو څخه دي.

۵.۲ .اقتصادي سیستم
اقتصادي سیستم هغه جوړښتونه، اړیکي او بهیرونه رانغاړي چې د سرچینو د تولید، وېش، تبادلې او مصرف څرنګوالی تنظیموي. بازارونه، بانکونه، سوداګریز بنسټونه او د کار بازار یې د بېلګو په توګه یادولای شو.

۵.۳ .ټولنیز سیستم
ټولنیز سیستم د افرادو، ډلو، ټولنیزو بنسټونو او د هغوی ترمنځ د اړیکو هغه مجموعه ده چې د ټولنیز ژوند په تنظیم او دوام کې ونډه لري. کورنۍ، ټولنیزې شبکې او بېلابېل ټولنیز بنسټونه یې د مهمو برخو بېلګې دي.

۵.۴ .کلتوري سیستم
کلتوري سیستم له هغو ارزښتونو، باورونو، ژبې، دودونو، سمبولونو او د معنا د لېږد له بهیرونو سره تړاو لري چې د یوې ټولنې د کلتوري ژوند په جوړولو او دوام کې ونډه لري. د ژبې، ادبیاتو، هنرونو او دودونو ساتنه او لېږد یې د فعالیت له مهمو اړخونو څخه دي.
د دغو څلورو سیستمونو داخلي جوړښت، د فعالیت څرنګوالی او له یو بل سره اړیکې پراخ بحث ته اړتیا لري؛ له همدې امله به په راتلونکې برخه کې هر یو په جلا او تفصیلي ډول وڅېړو.

۵.۵ .حقوقي سیستم
حقوقي سیستم له قوانینو، اصولو، بنسټونو او کړنلارو څخه جوړ دی چې د حقونو او مکلفیتونو، قانوني اړیکو او د شخړو د حل چارې تنظیموي. د قانون جوړونې بهیرونه، قضایي بنسټونه او د قوانینو د تطبیق لارې یې د مهمو برخو بېلګې دي.

۵.۶ .امنیتي سیستم
امنیتي سیستم هغه بنسټونه، اړیکې او کړنلارې په ځان کې رانغاړي چې د امنیت د تأمین، د ګواښونو د پېژندلو، د خطرونو
د ارزونې او مدیریت او د بحرانونو پر وړاندې د غبرګون له پاره فعالیت کوي. د اړوندو ادارو ترمنځ همغږي او د معلوماتو شریکول یې د فعالیت له مهمو اړخونو څخه دي.

۵.۷ .ښوونیز سیستم
ښوونیز سیستم له هغو بنسټونو، سرچینو، ټګلارو او بهیرونو څخه جوړ دی چې د زدهکړې او روزنې د تنظیم، د پوهې د لېږد او د مهارتونو د ودې له پاره فعالیت کوي. ښوونځي، پوهنتونونه، ښوونکي، زدهکوونکي، درسي نصاب او د زدهکړې د ارزونې لارې یې د مهمو عناصرو بېلګې دي.

۵.۸ .ټخنیکي سیستم
ټخنیکي سیستم له وسایلو، تجهیزاتو، ټکنالوژیو، کړنلارو او اړوندو انساني فعالیتونو څخه جوړ وي چې په ګډه یوه ټخنیکي دنده ترسره کوي. د بریښنا د تولید او وېش سیستم، مخابراتي شبکې او د اوبو رسولو سیستمونه یې د بېلګو په توګه یادولای شو.

۶ .د سیستمونو د فعالیتي ډګرونو ترمنځ اړیکې
د فعالیت د ډګر له مخې د سیستمونو طبقهبندي د هغوی ځانګړې دندې روښانوي، خو دا په دې معنا نه ده چې سیستمونه له یو بل څخه په بشپړ ډول جلا دي. په عملي ژوند کې د یوه سیستم فعالیت د نورو سیستمونو پر جوړښت، سرچینو او پایلو اغېز کولای شي.
د بېلګې په توګه، د ښوونیز سیستم فعالیت له اقتصادي سرچینو سره تړاو لري، ځکه د ښوونځیو جوړول، د ښوونکو روزل او د تعلیمي موادو برابرول مالي امکانات غواړي. په ورته وخت کې، ښوونیز سیستم د پوهې او مهارتونو په پراخولو سره پر اقتصادي او ټولنیز ژوند اغېز کوي.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

همدارنګه، سياسي پرېکړې د اقتصادي فعاليتونو شرايط بدلولای شي؛ حقوقي اصول د ادارو او افرادو د فعاليت چوکاټ ټاکلای شي؛ او کلتوري ارزښتونه د خلکو پر ټولنيزو اړيکو او چلند اغېز لرلای شي. تخنيکي سيستمونه هم د اقتصاد، ښوونې، امنيت او نورو برخو د فعاليتونو د ملاتړ له پاره کارول کېږي.
دا اړيکې ښيي چې د يوه سيستم د بشپړ درک له پاره کله ناکله اړينه ده چې له نورو سيستمونو سره يې اړيکې هم وڅېړل شي. که يو سيستم په بشپړ ډول له نورو څخه جلا تحليل شي، ښايي د هغه د فعاليت ځينې مهم لاملونه او پايلې له پامه وغورځول شي.

۷ .د سيستمونو د طبقهبندۍ په اړه مهمه يادونه
د سيستمونو د طبقهبندۍ په اړه يو مهم ټکی دا دی چې د وېش بېلابېل معيارونه د يوه سيستم بېلابېل اړخونه رابنيي. دا معيارونه د يو بل بديل نه دي، بلکې يو د بل بشپړوونکي دي.
يو سيستم د رامنځته کېدو له مخې طبيعي يا مصنوعي کېدای شي؛ له چاپېريال سره د اړيکو له مخې پرانيستی يا تړلی کېدای شي؛ په يوه لوی جوړښت کې د خپل ځای او د مطالعې د کچې له مخې اصلي يا فرعي کېدای شي؛ او د فعاليت د ډګر له مخې اقتصادي، ښوونيز، تخنيکي يا د بلې ځانګړې ساحې اړوند سيستم ګڼل کېدای شي.
د بېلګې په توګه، بانکي سيستم د انسانانو له خوا د مالي اړتياوو د پوره کولو له پاره جوړ شوی، نو د رامنځته کېدو له مخې مصنوعي سيستم دی. دا له مشتريانو، بازارونو، دولتي ادارو او نورو مالي بنسټونو سره پيسې او معلومات تبادله کوي، نو پرانيستی سيستم هم دی. د يوه هېواد د اقتصادي سيستم په چوکاټ کې فرعي سيستم ګڼل کېدای شي، خو د فعاليت د ډګر له مخې اقتصادي سيستم دی.
په همدې ډول، ښوونيز سيستم مصنوعي او پرانيستی سيستم دی؛ د يوه پراخ ټولنيز جوړښت د فرعي سيستم په توګه مطالعه کېدای شي؛ او د فعاليت د ډګر له مخې ښوونيز سيستم ګڼل کېږي.
دا بېلګې ځرګندوي چې د يوه سيستم د پېژندلو له پاره يوازې د هغه نوم يا د فعاليت ډګر معلومول بسنه نه کوي. د سيستم د بشپړ درک له پاره بايد د ځېرنې له موخې سره سم د هغه د رامنځته کېدو ځرنګوالی، له چاپېريال سره اړيکې، په لوی جوړښت کې ځای، داخلي جوړښت او د فعاليت ډګر هم وڅېړل شي.
له همدې امله، د سيستمونو طبقهبندي يوازې د نومونو او ډلو ټاکل نه دي؛ بلکې د هغوی د جوړښت، فعاليت او اړيکو د تحليل يوه علمي وسيله ده.

پايله
د سيستمونو د ډولونو مطالعه له موږ سره مرسته کوي چې د بېلابېلو سيستمونو ترمنځ ورتهوالی او توپيرونه په منظم ډول وپېژنو. د اصلي او فرعي سيستمونو توپير روښانوي چې يو سيستم په يوه لوی جوړښت کې څه ځای لري او د مطالعې د موخې له مخې څنګه تحليل کېدای شي. په ورته وخت کې، د فعاليت د ډګر له مخې طبقهبندي د سيستمونو ځانګړې دندې او د فعاليت ساحې رابنيي.
خو د سيستمونو د بشپړ درک له پاره يوازې د يوه معيار پېژندل بسنه نه کوي. د يوه سيستم د دقيق تحليل پر مهال بايد د هغه داخلي جوړښت، د اجزاوو ترمنځ اړيکې، له چاپېريال سره تعامل، په لوی جوړښت کې ځای او له نورو سيستمونو سره متقابل اغېز په پام کې ونيول شي.
په راتلونکي برخه کې به د سياسي، اقتصادي، ټولنيز او کلتوري سيستمونو جوړښت، ځانګړتياوې او د فعاليت ځرنګوالی په تفصيلي ډول وڅېړو، خو روښانه شي چې دا سيستمونه څنګه فعاليت کوي او له يو بل سره څه ډول اړيکي لري.

02.11.2026

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ